# ګلى ځناور



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

بسم الله الرحمن الرحیم بسم الله الرحمن الرحیم
بسم الله الرحمن الرحیم بسم الله الرحمن الرحیم

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

ډالــی ډالــی ډالــی

ګران ورور زبیح الله صافی او خپلی تولی کورنی ته

قاری صاحب فواد صافی او عنایت الله توحیدیار ته

د مطالعی تولو مینوالو ته او هغه لیکوالانو ته چی په خپلو ښکلو لیکنو یی
د پښتو ادب ته خدمت کړی او کوی یی

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

لیکوال : ادریس ساحل صافی

سریزه

د لوی څښتن تعالی په سپیڅلی نامه زیات خوشحاله یم چی خپل لومړنی ناول می ولیکه هر څوک هیله لری چی پرمختګ وکړی او په یوه برخه کی څه لاسته راوړی څوک په ورزش کی څوک په تعلیم کی څوک په سیاست کی څوک په خپلو ورځنیو کارونو کی هڅه کوی زما هم همدا ارمان و یو ناول ولیکم او د پښتنو د بدو او ښو رواجونو او دودونو څخه خلک خبر کړم اخر هم الله تعالی توفیق راکړ ترڅو خپل لومړنی همدا ناول چی ځنګلی ځناور نومیږی ولیک په دی کتاب کی د هغه ځوان کیسه ده چی د کلی ملا یی پر دین او وطن مین شخصیت وی تل حق وایی او کلیوال د بدو لارو څخه راګرځوی د وطن د پرمختګ په فکر کی وی د ټولنی د خرابو رواجونو په خلاف ولاړ وی خلکو ته سمه لار وربښایی خو په اخر کی د همدی ځوان پلار د یو کس لخوا څخه ووژل شی دغه شخصیت د غلا کولو لپاره په ځنګل کی انسانان وژنی دا ځوان په عسکری کی وی کله چی عسکر دغه قاتل ونیسی دا ځوان د دی فکر کی نشی چی زندان ته به لاړ شی او د عسکرو په مخکی د خپل پلار قاتل ووژنی د دی کتاب لپاره نوم زما د کاکا ځوی فواد صافی خوښ کړ هغه زه وهڅولم تر څو داسی یو کتاب ولیکم د هغی سربیره د خپل نږدی ملګری عنایت الله توحیدیار څخه هم مننه کوم چی زه یی تر خپل وس پوری تشویق کړم ما د دی کتاب سربیره دوه نور کتابونه هم لیکلی چی یو د جغرافیی دی او( د نابغه ټاټوبی وپیژنه )نومیږی په دغه کتاب کی د کونړ ولایت پیژندنه شوی بل د لنډو کیسو کتاب دی چی( د لیوه پاچاهی ) نومیږی په دغه کتاب کی می څو لنډی کیسی لیکلی دی په خپله د لنډو کیسو او ناولونو مینوال یم او ډیر زیات کتابونه می ویلی دی نور مو وخت نه

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

ضایع کوم د ناول لوستلو ته مو رابولم خو په اخر کی یوه خاصه مننه د خپل ګران ورور انجینر زبیح الله صافی څخه کوم چی ما ته یی د مطالعی لپاره فرصت راکړ

په ډیر درناوی

ادریس ساحل صافی

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول          ځنګلی ځناور

۱

ليکوال : ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

د خطیب عمر کابو دری ځلوینت کاله وو په سپین مخ یی اوږدی توری ږیری د مخ روښنایی زیاته کړی وه ښکلی سپینی لونګی یی د سر وینتان پټ کړی و په ممبر ولاړ و او خطبه یی ویله په کافرو یی د جهاد فتوي صادرولي خطبی پای ته رسیدو ځخه وروسته لنډ مونځ وشو خلک داسي له جومات نه وتل ته به وایی چي کلونه یی په زندان کي تیر کړي وي .
حمید اتلس کلن وو کور ته د ننوتلو سره سم یی غوغا جوړه کړه مور یی لور ته په غوسه وه ویل یی هلک ته ډوډي راوړه ډوډی یی نده خوړلي لور یی د ځان سره وبنګیده لږ وخت وروسته یی حمید ته ډوډي کینوده حمید ډوډی ته ناست وو له مور سره یی خبري کولي مور یی په خبرو کي نصیحتونه کول.
د مازیګر مونځ په قضا کیدو و لمر خپل ځای ستورو او سپوږمی ته پریښوده حمید د خپلو ملګرو سره د لوبو میدان کي یو له بل سره په خبرو وخت تیراوو د جومات له مناری د ازان اواز مسلمانان جومات ته دعوت کول امام لمونځ شروع کړو حمید او ملګرو یی اخرې صف کي په خبرو مشغول وو امام سلام په اړولو سره لمونځ پای ته ورسوو له عمره پوخ یو سړی چي ږیره کي یی تور نه ښکاره کیدل په غوسه وو ځوانان یی ملامتول
چي په مونځ کي د مقتدیانو توجو خرابوی امام دا کار د شیطان وبللو حمید او ملګرو یی سرونه ښکته کړی وو د ملامتیا اخیستلو په ځای یی خندل خلکو سنت لمونځونه وکړل او یو بل پسی د جومات ځخه د کور په لورې روان شول.
سهار د مناری نه پورته شوی ازان د خلکو په خوبونو کي جوړی مانی ویجاړی کړی د حمید پلار سیدګل حمید ته جومات ته د تلو امر وکړ خپله د جومات په لورې لاړی حمید د اودس وروسته جومات ته لاړی ځوانانو په جمعه کي د خوب ټالي وهلي .

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

د مونځ وروسته حمید او ملګری یی د غره په لورې د لرګو راوړلو په نیت روان شول یخ باد لړیده د لمر کمزوری روښنایی د هلکانو په تړل شوو ګیډو ولړیده هر چا خپله راوړی ډوډی د ستونې تیره کړه په ډلیز ډول د کلی په لور راروان شول هر کس دخپل ملګرې سره په خبرو مشغول وو حمید او جلال هم تر کلي پوری یو د بل سره خبری کولی کلی ته د رارسیدو سره یو له بل نه جلا شول .

حمید د کور په دروازه ننوت ګیډی یی د شا څخه ښکته کړ اوبه یی وڅکلی او د کلی میدان ته ووت.

ډلی بیلی شوی لوبه پیل شوه تر اخره دی یوی ناری میدان کې غوغا جوړه کړی وه ما تا راګوزار کړه هغی ته ورګوزار کړه د غرمی دلمانځه لپاره ازان هلکانو ته ډوډی ور په یاد کړه هر کس خپل کور ته لاړی .

حمید ډوډی وخوړه او د لمانځه په نیت د جومات په لور روان شو جومات د کلی په منځ کې جوړ شوی و د جومات خوا کې ویالی د اوبو ستونزه حل کړی وه د لمانځه وروسته حمید کور ته لاړی په کټ کې اوږد وغزید.

مازیګر یی مور د لمونځ لپاره د خوب نړی وروړانه کړه د لمانځه وروسته د جلال خواته ورغلی د جوړ پخیر وروسته دواړه د پټو په لور د چکر په نیت روان شول

جلال وویل حمیده څنګه کوم کار خو به دی نه وی پیدا کړی

حمید وویل نه کارونه څه کوی

جلال وویل کار به تا ته څه پیدا شی مسافری ته نه کوی او کلی کې کار نه وی

حمید وویل جلاله خبره خو دې ښه وکړه زه به می د پلار نه پوښتنه وکړم که اجازه یی راکړه نو د خیره ښار ته به د کار لپاره ځم

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

جلال وویل زما هم اراده ده خو په کور کې بل څوک نشته ورونه می هم ماشومان دی یو پلار می دی هغه یی ګټی او مونږ یی خورو هوښیارانو څه ښه متل کړی پلار ګټلی ځوی ته اسانه

حمید وویل ولې زه درته کشری ښکارم زما هم ورور ماشوم دی خویندی می راڅخه مشرانی دی خو واده شوی هغه یوه کشری پاتی وه هغه مو هم لږ وخت مخکی د تره ځوی په نوم کړه

جلال وویل د هغی خبر شوم خوراکی سره مو زیاتی وکړو هغه خو د دیارلسو کالو هم پوره نه وه

حمید وویل ما هم پلار ته وویل خو هغی ویل پریږده چی خلاصی شی

جلال وویل ستا هم ډیری خویندی دی پلار دی په حقه دی مونږ ته وګوره دری خویندی مو دی پلار مو وختی ورکړی اوس یی لوی لوی ماشومان ګرځی شپږ ورونه یو مشر یی زه یم نور ټول ماشومان دی ساتل غواړی

حمید وویل که هر څومره یی وساتی واده یی وکړو په خپله مخه ځی

جلال وویل دا خبره درسره منم په خبرو خبر د کلی په لور راروان شول د ماښام ازان ته لږ وخت پاتی وو دواړه د جومات په خوا کی روانی ویاله کی اودسونه وکړل مؤذن ازان شروع کړو

جلال وویل ته د کار په اړه کور کې مشوره وکړه زه به یی هم وکړم

حمید وویل سمه ده د لمانځه وروسته خلک یو په بل پسی د جومات نه ووتل جلال او حمید خدای پامانی وکړه او دواړه د خپلو کورونو په لوری روان شول

ډوډی وخوړل شوه چای کیښودل شو حمید د کار لپاره ښار ته د تلو خبره وکړه

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

پلار یی د چای غړپ وکړ وویل ځویه دلته رارسیږی ښار کې څه کوی
مور یی وویل ځویه پلار دی هم ناروغ دی دلته مو ګوزاره کیږی الله رازق دی هر چا ته یی ورسوی
حمید په خپله خبره ډیر کلک شو خو پلار یی ونه منله حمید،ورور او پلار یی د لمانځه لپاره جومات ته لاړل د جمعی وروسته کور ته راغلل د خوب ځایونه تیار وو تول پریوتل.
د سهار له مونځ وروسته ځوانان بیا د غره په لور روان شول د جلال طبیعت خراب و
حمید وویل څه خبره ده جلال وویل پلار می نه پریږدی وایی تربوران به څه وایی چې ډوډی نه لری په ځوی باندی ښار کی مزدوریانی کوی ته وایه څنګه ستا کار وشو که نا
حمید وویل نا پلار می وایی الله یی دومره رارسوی چی بل ته محتاج نه یو
جلال وویل الله دی پر مونږ رحم وکړی
حمید وویل امین
جلال وویل راتیز شه چی نور کسان ډیر مخکی روان دی.
میاشتی تیری شوی بله ورځ د کلی ملا امام او څو کلیوال د سیدګل سره میلمانه راغلل حمید کور کی نه وو پتنوس وشړنګید جمال د چای جوش سره د حجری په دروازه راننوت د پیالو تاونه پورته شول د هر کس مخی ته د چایو پیاله کیښودل شوه جمال له حجری ووت یخ باد لړیده
د جلال پلار جانباز وویل د الله رحم دی چی په دی ګرمی کی تازه هوا لګیږی

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

سیدګل وویل هو که دا بادونه نه وی د دی ګرمی سره ګزاره نه کیږی
ملاصاحب د چایو غړپ وکړ د خبرو لمبر هغه ته وروړسید وویل الله تعالی په قران عظیم الشان کی فرمایی ما هر څه ستاسو د خیر لپاره پیدا کړی دی باید د الله تعالی شکر ادء شی چی په مونږ یی دومره رحمونه کړی دی خو په دی وخت کی چا الله تعالی ته فکر نشته دی صدقی څوک نه ورکوی زکاتونه نه ورکوی جومات ته هم نه راځی
غفور چی د نورو مشر وو د ملا صاحب خبره یی تاید کړه د چای څښلو وروسته ملا صاحب د خیر دعا وکړه او په ګډه د خپلو کورونو په لور روان شول.
وخت تیریده یوه ورځ جلال او حمید نږدی غونډی ته د چکر په نیت لاړل دواړه د غونډی په سر په یوه ډبره کښیناستل او د کلی د خړ پړ کورونو په ننداره بوخت شول
جلال وویل د الله جالب نظام دی غرونه یی هسک پیدا کړی بوټی په کي په خپل امر راخیژوی هیڅوک اوبه نه ورکوی خو بوټی له منځه نه ځی
حمید وویل الله تعالی لوی ذات دی په خپل کتاب قران عظیم الشان کی فرمایی : وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا••••••په ځمکه کښي ویاړلی (په تکبُر سره) مه ځه، ته نه ځمکه څیرولای شې، نه د غرونو هسکوالی ته رسېدلای شې.••••بنی اسرایل ۳۷ ایات••••
جلال وویل ته ښه یی د ملاصاحب نه دی ترجمه وکړه مونږ خو بس وخت ضایع کړو قران هم راته سم نه دی یاد
حمید وویل اوس هم ډیر وخت دی مدرسه کی ځان شامل کړه

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

جلال وویل اوس لوی شوی یم د ماشومانو سره نشم کښیناستلی شرم دی ماشومان به راپوری خاندی
حمید وویل دا هیڅ شرم نه دی شرم د هغی دنیا دی چی سر به دی ټیټ نیولی وی او چا ته به ګتلی نشی
جلال وویل ته هم سمه خبره کوی مګر داسی ده چی جلال خبره نه وه بشپړه کړی چی د کلی د ښځو او ماشومانو د چغو اوازونو په غونډی کی انعکاس وکړ
جلال وویل الله دی خیر کړی کلی کی لکه چی څه خبره شوی
حمید وویل لکه چی څوک مړ دی
جلال وویل همداسی ښکاری راتیز شه چی کلی تا ځان ورسوو
دواړو کلی تا ځان په منډه ورسوو ژړا ختمه شوی وه د کریم د کور مخی تا ډله کلیوال او ماشومان ولاړ وو
حمید د خپل یو کلیوال سمیع څخه پوښتنه وکړه څه خبره ده
سمیع سوړ اسویلی وویست وویل کریم د خپل مرحوم ورور سعید ښځه او ماشومان وهلی
حمید وویل کریم په یتیمانانو ظلم کوی
جلال وویل کومک خو ورسره نه کوی د وهلو یی ورسره څه دی سعید په عسکری کی خپل ژوند د لاسه ورکړی وو دری زامن او یوه لور تری یتیمانان پاتی شول اوس یی مشر ځوی لسو کالو ته رسیدلی وو کریم ډیره هڅه وکړه چی د سعید میرمن ځان تا په نکاح کړی خو د سعید میرمنی ویل دا د خپلو ماشومانو سره ژوند تیروی کله چی کریم پوهه شو چی د ورور میراث یی دی تا نه پاتی کیږی نو د سعید میرمن او ماشومان به یی په یوه بهانه وهل

## ليکوال : ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول            ځنګلی ځناور

کريم او د کلی مشران د کريم حجرى ته ننوتل کريم د سعيد ميرمن ملامتوله چی د دی سره بد چلند کوی کريم وويل د سعيد ماشومان زما ماشومان وهی کله چی زه ماشومانو تا په غوصه شم د سعيد ميرمن وايی ته په يتيمانانو ظلم کوی.
سيدګل وويل کريمه صبر کوه الله تعالی په قران عظيم الشان کی فرمايی •••اِنَّ الله مَعَ الصَّبِرِيْنِ ••• يقينن الله تعالی د صبر کووونکو سره دی •••
ملاصاحب د خبرو لمبر په خپله ولکه کی واخيست وويل سيد ګل سمه خبره وکړه صبر ښه څيز دی او د صبر ميوه خوږه وی خو د دی تر څنګ مونږ بايد د يتيمانانو سره ښه چلند وکړو حق يی ونه خورو او ظلم هم پری ونه کړو الله تعالی په قران عظيم الشان کی فرمايی ••• وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ ۚ وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ ۖ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا•••• د يتيم مال ته پرته د ښې طريقي څخه مه نژدې کيږئ، تر څو پوري چي هغه د خپلي ځوانی عمر ته ورسيږي (نو مال يې ور وسپارئ). د ژمني پابند اوسئ، دا يقيني ده چي د ژمني په اړه به تاسي وپوښتل شئ. •••بنی اسرايل٣٤•••
کريم وويل ما خو څه د هغه مال نه دی خوړلی
ملاصاحب وويل پر هغوی رحم کول د هغوی حق دی کله چی پری رحم ونه شی دا داسی ده لکه حق چی يی وخوری کليوالو د ملاصاحب خبره تايد کړه ملاصاحب د خير دعا وکړه ټول کليوال د تګ په نيت راپاڅيدل کريم د چايو ټينګ ست وکړ خو کليوالو ويل تا ته تاوان نه دراړوو .
حميد ډير مخکی کور ته رارسيدلی و د پيښی کيسه يی کړی وه مور يی د سعيد د ميرمنی صفات بيانول کريم يی ملامتوو سيدګل چی کله کور تا راغلی د حميد مور تری پوښتنه وکړه: څه خبره وه ؟

ليکوال : ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

سیدګل وویل: د ماشومانو په سر یی جنګ کړی وو د خدای بښلی سعید ځوی د کریم کشر ځوی وهلی و بیا د کریم میرمن د سعید ځوی وهلی په همدی د سعید میرمنی او د کریم میرمنی جنګ کړی کله چی کریم کور ته راغلی دواړه ښځی یی وهلی د سعید زامن یی هم وهلی چی تاسو ولی زما ځوی وهلی .

د حمید مور وویل کریم د سعید د میرمن سره څه دی ورندار یی ده څه میرمن خو یی نده .

سیدګل وویل کلیوالو هم همدا ویل د کریم د سعید میرمن او ماشومانو له څه دی .

حمید وویل د سعید مال ته یی چل دی چی په کومه طریقه یی تری په خپل نامه کړی د سیدګل په کور کی د کریم غیبت روان وو.

سیدګل تر یو وخت پوری غلی و بیا یی وویل: غلی شی د نورو غیبت نه درته بل څه نه دی یاد ملاصاحب ویل د یو چا غیبت داسی دی لکه د خپل ورور غوښه چی خوری ټول غلی شول .

سبا ماښام سیدګل حمید ته وویل ځویه ته خو خبر یی د غونډی اخوا کلی ته کډوال راغلی کار می زیات دی وایم که ته

حمید نوری خبری ته پرینښود ورته وویل سمه ده سبا څخه وروسته به درسره ځم

پلار یی حمید ته په غوصه شو چی کس پرېږده خپله خبره پوره کوی حمید غلی ناست و

مور یی وویل ځوان دی غلطی تری وشوه په غوصه کیږه ورته مه

سیدګل وویل دا به د دی څخه هم نور لوی کیږی

د حمید خور ډوډی راوړه جمال د لاس وینځلو لپاره لومړی پلار بیا حمید او وروسته د حمید مور ته اوبه واچولی ډوډی وخوړل شوه د لمانځه لپاره د کلی جومات ته لاړل د لمانځه وروسته ټول په خپلو بسترو کی پریوتل.

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

د سهار لمونځ څخه وروسته جلال حمید پسی راغلی
جلال وویل لکه چی نن دی غر ته زړه نه کیږی
حمید وویل پلار می وایی چی له دی وروسته له ما سره کار کوه
جلال وویل ستا پلار د ګټو او ختو کار کوی
حمید وویل هو
جلال وویل نو ته یی لومړی معاون شوی
حمید په خندا وویل هو نور د غر څخه خلاص شوم
د چای وروسته حمید او سیدګل د کار په لور روان شول څه سامان حمید او څه سامان سیدګل په شا کړی و حمید او پلار یی تر ماښامه کار وکړ او د ماښام لمونځ یی خپل کلی ته راورسوو د جمعی وروسته حمید او جلال یو ځای د کورونو په لور روان شول
جلال وویل څنګه کار ته تلی وی
حمید وویل هو سخت ستړی شوم جلاله ځان سره می په لاره سوچ کوو دا پلار به می څنګه دا کار کوی
جلال وویل یو خو پخوانی خلک قوی دی دویم هغوی ورسره عادت شوی دی
حمید وویل مونږ خو د پخوانی خلکو څخه زیاته ډوډی خورو د ډوډی تباهی مو وکړه د حمید کور راورسید
جلال ته یی د ډوډی کلک ست وکړ
خو جلال د تلو ټینګار کوو

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

حمید د ډیر کار له امله ټوله شپه ویده وو د سهار مونځ څخه وروسته تور اسمان او غړمبه د خطرناک باران خبرداری ورکوو حمید له چای ته ناست و چی باران په شدت سره په ځمکه ولږید

سیدګل وویل هغه کډوال به څنګه شی د حمید مور ته یی وویل کور کی ترپالونه شته دی

د حمید مور وویل هو

سیدګل وویل ښه ده را یی کړه چی وریوړو

د حمید مور او دوو خویندو ترپالونه راوخیستل حمید او سیدګل په منډه ترپالونه د کډوالو ځای ته ورسول کډوالو د ترپالونو په لیدلو خوشحاله شول او د زړونو یی د الله تعالی د دربار څخه د سیدګل او کورنۍ لپاره دعاګانی ووتلی تر پالونه یی زر زر کلک کړل ماشومان او ښځی تری لاندی شولی د حمید او سیدګل جامی لمدی شوی وی کلی ته راغلل کلیوال یی د کډوالو د حال څخه خبر کړل خلکو تر خپله وسه مرسته ورسره وکړه کډوال زیات خوشحاله و

د غرمی مونځونه شوی و چی سیلابونه ودریدل د کډوالو کورونه جوړ شول حمید د کار په وخت کی د ډیرو کسانو سره بلد شوی و د سعید په نامه یو ځوان چی عمر یی شلو کالو ته رسیده د حمید سره تر نورو زیات ملګری شوی و د سعید له په کلی کی جګړه وه د همدی امله ټول خلک د حمید له کلی ته نږدی واړول د سعید پلار په حکومت کی سرتیری و د دری ځلورو میاشتو وروسته د کډوالو په کلی کی جګړه ختمه شوه کډوال خپل کلی ته ستانه شول

هر وخت به د حمید له کلی ته راتلل سعید به هم کله کله د حمید لیدلو ته راتلو .

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

څو ورځې تیری شوی حمید د کور څخه راووت د دروازی یی څو قدمه اخیستی و چی د جلال اواز یی واورید جلال په زوره ناری وهلی
او حمید ته یی ویل ودریږه حمید ودرید جلال د رارسیدو سره سم سترې مشی وکړه دواړه یو ځای روان شول
جلال حمید ته وویل چیرته روان وی
حمید وویل تلم د ترور کره می
جلال وویل خیر خو دی
حمید وویل هو خیر دی مور می ویل ترور دی راوله
جلال وویل سمه ده زه به هم درسره لاړ شم
حمید وویل سمه ده راځه زما د لاری ملګری هسی هم نشته
جلال وویل زه هم تا پسی راغلم
حمید وویل ولی دی ناری وهلی خوشحاله معلومیږی
جلال وویل خبروم دی خو لومړی ووایه په زیری کی به څه ځیز راکوی
حمید وویل که زیری ښه و نو څه چی ستا خوښ و همغه به درکړم اوس خبره کوه
جلال وویل نا ووایه څه به راکوی
حمید په خندا وویل وهل نور څه هم غواړم جلال غلی شو د حمید سودا شوه وویل ووایه څه خبره ده

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

خو جلال خبره نه کوله ویل یی شرمیږم
حمید پری رامخکی شو وویل وهلکه لکه چی ښځه دی کړی
جلال سر ښکته کړه او په موسکا یی وویل هو
حمید په غیږ کی ونیو مبارکي یی ورکړه تری وپوښتل څوک دی وکړه
جلال وویل د ترور لور
حمید وویل څه وخت به واده وی
جلال وویل تر اوسه مو لاس نه دی پورته کړی یواځی یی ویلی راتلونکی جمعی ته راشی
حمید وویل نن خو یکشنبه ده پنځه ورځی پاتی دی
جلال وویل هو
حمید وویل ښنګه ستا خوښه ده که نا
جلال وویل زه خبر هم نه وم جرګه یی پری کړی اوس یی کور کی راته وویل چی ښځه مو درله وکړه
حمید وویل د پښتنو همداسی ماحول دی د لور او ځوی پوښتنه نه کوی
جلال د هو په بڼه سر وخوځو په خبرو خبرو د حمید د ترور کور تا راورسیدل حمید کور تا ننوت او جلال حجره کی کښیناست ترور یی ځان تیار کړه او د حمید او جلال سره یو ځای د خپل ورور کور تا راغله

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

د جمعی په ورځ د جلال لاس پورته شو ملا نکاح وتړله ولور وتاکل شو جلال حیران و چی ولور به څنګه ورکوی د جلال پلار د کور ځاروی خرڅ کړل قرضونه پری واخوتل څو ځل یی د جلال خسر ته جرګی ورولیږلی چی ولور دی کم کړی یا د واده وروسته به یی درکړو خو د جلال خسر خبره نه منله د جلال کورنی یی سوال ته کښینوله او جلال واده وکړ هغه ښځه چی د جلال کورنۍ فکر کوو دوی ته به خوشحالی راوړی د جلال کورنۍ څخه یی د خپګانونو په تیارو کی لاره ورکه کړه جلال کورنۍ چی به د شپی وخوړه نو د ورځی به یی نه وه او که د ورځی به یی وخوړه د شپی به یی نه وه د واده یوه میاشت ووته ناوی د پالنګ څخه کوزه شوه او د کار په کولو یی پیل وکړ د جلال د خسر د لاسه د جلال او میرمنی ژوند خراب و یوه ورځ د حمید سره یو ځای ناست وو او خپلی ستونزی یی بیانولی

حمید ورته وویل ستا خسر خو ما له هم د واده نه زړه تور کړ اوس څه کوی

جلال وویل زړه می دی ښار تا د مزدوری لپاره لاړ شم

حمید وویل ځوانه د ښځی څخه تښتی

جلال وویل زه خو نه تښتیدم ښځی می تښتیدلو ته اړ کړم

جلال د مور او پلار سر د تګ خبره وکړه دوه ورځی وروسته د ښار په لوری روان شو د جلال میرمن په شته خاوند کی کونډه شوه جلال په ښار کی د یو خټګر سره کار شروع کړ

د جمعی ورځ وه د کلی په جوماټ کی خطبه وویل شوه خطیب د لمونځ ګټی بیانولی په جمعه لمونځ یی د غوره مومنانو صفت یاد کړ وویل الله تعالی په قران عظیم الشان کی فرمایی •••وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا الزَّكَوٰةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّٰكِعِينَ••• او لمونځ قائم کړئ، زکات

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

ورکړئ او کوم خلك چي ما ته سر ټیټوي، تاسي هم له هغو سره ټیټ شئ•••البقره ٤٣•••خطیب په لمانځه کی د خشوع کولو وویل وویل تر ټولو غوره لمونځ هغه دی چی الله تعالی ته په کی ډیره توجو وشی الله تعال فرمایی •••وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَوٰةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَٰشِعِينَ•••په صبر او لمانځه د الله مرسته وغواړئ. په دې کښې شك نشته چي لمونځ یو ډېر سخت کار دی، خو امر منونکو (عاجزي کوونکو) بندګانو ته سخت نه دی•••البقره ٤٥••• خطیب وویل د ځان له لمانځه څخه د جمعی مونځ د ځینو روایاتو په بنیاد پنځه ویشت او د ځینو روایتونو په بنیاد اووه ویشت درجی غوره دی دا دواړه روایات صحیح دی که مونځ په ښی طریقی سره وشی اووه ویشت درجی فضلیت او که په لږ کمزوری طریقی سره وشی پنځه ویشت درجی فضلیت لری وروسته یی د قیام الیل یا تهجد لمونځ فضلیت بیان کړ وویل الله تعالی د شپی اخری حصی کی لومړی اسمان ته راښکته کیږی اواز کوی زما کوم بنده دی چی له ما یی وغواړی او زه یی ورکړم که چا تری وغوښتل ورکوی یی او که څوک ویده و تری پاتی به وی خطیب د قران عظیم الشان یو ایات ولوست وویل الله تعالی فرمایی••• تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ••• (د تهجد لپاره) د بسترو څخه پاځیږي، خپل رب ته له ویري او هیلي سره خپله غوښتنه وړاندي کوي. او څه روزي چي موږ ورکړې ده، له هغي څخه لګښت کوي.••• السجده ١٦••• خطیب وویل الله تعالی وایی چا چی په قصدی ډول لمونځ پریښود کافر شو خطیب د استغفارو فضلیت شروع کړ وویل د الله تعالی ښنه غوښتل شرم ندی ادم علیه الصلاة والسلام د الله تعالی ښنه غوښتی الله تعای فرمایی ••• فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ••• په دې وخت کښې ادم (ع) له خپل پروردګار څخه څو کلمې زده کړې، توبه يې وایستله، چې دده رب قبوله کړه. په یقیني توګه، هغه (الله) ښه توبه قبلوونکی او د رحمت ښتن دی.•••البقره ٣٧•••یونس علیه الصلاة والسلام هم د الله تعالی ښنه غوښتی الله تعالی فرمایی •••وَذَا النُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبًا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ

ليكوال : ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

فَنَادٰى فِى الظُّلُمٰتِ أَن لَّآ إِلٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبْحٰنَكَ إِنِّى كُنتُ مِنَ الظّٰلِمِينَ  فَاسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ۚ وَكَذٰلِكَ نُۨجِى الْمُؤْمِنِينَ••• او موږ د کب ښتن (یونس ع) هم ونازوه، کله چي هغه په غصه تللی ؤ او انګېرلې يې وه چي موږ به هغه مواخذه نکړو. په پای کښي هغه په ترږمیو کښي اواز وکړ: "بېله تا څخه بل هیڅ خدای نسته، ستا ذات پاك دی، بېشکه ما کمی کړی ؤ.هله نو موږ د هغه دُعا قبوله کړه او له غم څخه مو وژغوره. او پدغه شان موږ مؤمنان ژغورو.••• الانبیاء ۸۷ .۸۸ ••• بیا یی وویل زمونږ خوږ پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایی زه په ورځ کی د الله تعالی څخه اویا ځل او په بل روایت کی راځی سل ځل ښښنه غواړم الله تعالی په قران کی فرمایی ••• وَقُل رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ الرّٰحِمِينَ•••[اې محمده (ص)!]  ووایه: "زما ربه! ښښنه وکړه او رحم وکړه، او ته تر ټولو رحم کوونکو څخه ښه رحم کوونکی یې.•••المؤمنون ۱۱۸ •••خطیب غاړه تازه کړه بیا یی وویل الله تعالی بل ځای کی بیا خپل محبوب تا امر کوی  چی له ما څخه ښښنه وغواړه الله تعالی فرمایی ••• فَاعْلَمْ أَنَّهُۥ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ•••نو [اې پیغمبره (ص)] ښه وپوهېږه چي له الله څخه پرته بل هیڅوك د عبادت وړ نشته. او د خپلي ګناه لپاره هم ښښنه غواړه او د مؤمنو نارینه او ښځو لپاره هم. الله په دُنیا کښي ستاسي په هلو ځلو باندي هم پوهیږي او په اخرت کښي ستاسي له استوګنځي څخه هم خبر دی.•••محمد ۱۹•••بیا یی وویل د استغفار او ثنا تر منځ فرق دا دی وایی یو عالم ته یو کس راغلی تری وپوښتل ثنا ویل غوره دی که د استغفار عالم ورته وویل کله چی دی جامی ناولی وی وینځی او که عطر پری لګوی سړی وویل وینځم یی عالم ورته وویل د ثنا او استغفار تر منځ توپیر همدا دی که ګنهګار وی استغفار وایه او که ګنهګار نه وی ثنا وایه د داسی دی لکه چی جامی ووینځی او بیا پری عطر استعمالوی خطبه ختمه شوه د جمعی لمونځ ادء شو خلک خپلو کورونو ته لاړل

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

جلال نه و حمید د سعید خواته لاړی د سعید او حمید له د کلیو تر منځ کابو پنځه څلویښت دقیقی لاره وه حمید د مازیګره پوری هلته و
حمید او سعید په یوه غونډی ناست و د لری یی یو ماشوم ولید چی د دوی په لوری یی رامنډی وهلی کله چی لږ رانږدی شو
حمید وپیژند ورغږ یی کړ جماله څه کوی
جمال وویل کاکا له راغلی مور راولیږلم چی د ته ووایه زر راشه کور کی څوک نشته
حمید وویل د کاکا سره نور څوک دی
جمال وویل د کاکا ښځه عبدالله د عبدالله خور او زمونږ خور دی
حمید وویل سمه ده ته ورځه زه درغلم
جمال د لاری څخه بیرته ستون شو حمید او سعید خدای پامانی سره وکړه حمید چی کور تا راورسید تولو چای څښلی و ستړی مشی
یی وکړه وویل عبدالله څه شو
کاکا یی وویل هغه د باندی ووت ویل یی چکر وهم
حمید وویل سمه ده حمید او کاکا یی خبری کولی حمید د کلی د احوال څخه خبر کړ څه وخت وروسته سیدګل راغلی خپل ورور
صدیق ته یی غاړه ورکړه خپله لور او وریره یی په تندی ښکل کړی د صدیق سره په خبرو لګیا شو
دروازه خلاصه شوه عبدالله راننوت د حمید او سیدګل سره یی ستړی مشی وکړه صدیق په ښار کی روغتون کی ډاکټر و خو عبدالله په
لیسه کی د تاریخ ښوونکی و د مناری د الله اکبر اواز خلکو ته د ماښام مونځ د وخت داخلیدو خبر ورکوو سیدګل صدیق عبدالله او

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

حمید د کلی جومات ته لاړل د جمعی وروسته د کور په لوری راغلل صدیق او سیدګل په خپلو کی خبری کولی د کوټی په بل کونج کی حمید او عبدالله د تاریخ برخه کی خبری کولی

حمید وویل دا امان الله خان څوک و

عبدالله وویل امان الله خان د افغانستان د ازادی اتل و د پلار نوم یی امیر حبیب الله خان او د نیکه نوم یی امیر عبدالرحمن و په ۱۸۹۲م کال د جون په اوله په پغمان کی زیږیدلی و اته ویشت کلن و چی واک ته ورسید ۱۹۱۹م څخه تر ۱۹۲۹م پوری د افغانستان واکمن و د ۱۹۱۹م کال د اګست په اتلسمه یی افغانستان د انګریزانو څخه ازاد کړ د لس کاله واک څخه وروسته د حبیب الله کلکانی په واسطه تری واک واخیستل شو امان الله د افغانستان څخه ایټالیا ته لاړ هلته یی د غریبی ژوند و څه موده مخکی په ۱۹۶۰م کال د اپریل په پنځه ویشتمه د سوزرلینډ په زوریچ کی وفات شو او جسد یی د ننګرهار ولایت په جلال اباد کی د امیر شهیدباغ کی خاورو ته وسپارل شو

حمید د خا په بڼه سر وخورو

حمید بیا پوښتنه وکړه او دا احمدشاه څوک و

عبدالله وویل احمدشاه د ځینو روایتونو په اساس په کال ۱۷۲۲م کی په هرات کی زیږیدلی دی په ۱۷۴۷م کال کندهار ته لاړ دا عسکر و هلته د صابر په نوم یو ملنګ ورته د پاچاهی ستار وتړه احمدشاه تر ۱۷۷۳م کال پوری د افغانستان واکمنی وکړه د د خراسان نوم په افغانستان بدل کړو په افغانستان کی یی ملی حکومت جوړ کړ تر ډهلی پوری ساحی ونیولی او د ډهلی تخت یی پر خپل نوم کړ د یو پنځوس کالو په عمر مړ شو او پر ځای یی تیمور شاه پاچا شو تیمورشاه د احمدشاه ځوی و

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

حمید او عبدالله د تاریخ بحث روان کړی و چی ډوډی راوړل شوه د ډوډی او مونځ څخه وروسته عبدالله او حمید حجره کی او نور کور کی پریوتل عبدالله واده نه و کړی په دغی وختونو کی د ښځی کیسی روانی وی عبدالله او حمید تر ډیره خبری کولی بانه وجنګیدل او ز هن د ورځی د ستړیا ختمولو لپاره ارام شروع کړ .

د سهار مونځ په جمعه وشو حمید عبدالله سیدګل او صدیق کور ته راغلل تر لږ وخت پوری خبری کولی دسترخوان خور شو ډوډی په عادلانه ډول وویشل شوه د پیالو تاونه پورته شول د هر یو کس مخی ته د چایو ډکه پیاله کیښودل شوه د چای څکلو وروسته حمید او سیدګل کار ته د تلو تابع ونیوله عبدالله د ډیر تینګار څخه وروسته د حمید او سیدګل سره یو ځای روان شو صدیق د سیدګل کور په خپله ولکه کی واخیست په کټ کی کښیناست وریری یی ورته پیاله د شنو چایو ډکه کړه په کوچنی لوښی کی یی ورته میوه کیښوده صدیق د چای په څکولو لږیا شو جمال لږ لری ناست و او په کوم نامعلوم کار یی ځان مصروف کړی و صدیق ورته د راتلو امر وکړ جمال په منډه راغلی د صدیق مخی تا داسی ودرید لکه غلام چی د پاچا مخی ته ودریږی

صدیق وویل بچو ورشه د پټی څخه سابه راوړه مور ته دی ووایه چی سوکړک ورسره پوخ کړی

جمال مور ته د سوکړک پخولو وویل خپله د یو څادر سره یو ځای د پټی په لور لاړی کابو نیم ساعت وتلی و جمال د سابو ډک پنډ راوړ

د حمید مور او د کاکا میرمن یی په پاکولو لګیا شوی د حمید مشری خور د سابو د وینځلو لپاره د تره لور سره یو ځای منګی واخیست او د اوبو راوړلو لپاره نږدی چینی ته لاړه

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

حمید او سیدګل کار کوو عبدالله زیات تینګار وکړچی دا به هم کار ورسره وکړی خو سیدګل ونه منله عبدالله به کله کله یو کار کوو نور د حمید سره یی خبری کولی

حمید وویل ښار کی څه حال دی

عبدالله وویل خیر او خیرت دی

حمید وویل ښنګه ته به دی خپل معلیمتوب کوی زده کوونکی وی او که نا

عبدالله وویل هو د ښار زیاتره هلکان او انجونی تعلیم کوی ما ویل که دا جمال هم ښار ته راولیږی نو هلته به خپل تعلیم وکړی

حمید وویل په تعلیم څه کوی یو ځل دا قران ووایی له مونږ سره به یو ځای کار کوی مونږ دومره پیسی نه لرو چی په هغی تعلیم وکړو

عبدالله وویل تعلیم پیسو ته اړتیا نه لری ښوونځی مفته دی هیڅ پیسی نه اخلی یواځنی موخه یی راتلونکی نسل د تعلیم په جامه سمبالول دی تر څو د نړیوالو سره برابر شی او د علم په برخه کی ورسره رقابت وکړی

سیدګل د عبدالله او حمید خبری اوریدلی وویل عبدالله ما اوریدلی دی چی په ښوونځیو کی زده کوونکو ته کفر ښودل کیږی د دین او کار څخه یی وباسی

عبدالله وخندل بیا یی وویل کاکا دا د جاهلیت خبری دی دا اوازی او خبری هغه څوک په خلکو کی خپروی چی زمونږ د مقدس دین اسلام او زمونږ د مقدسی خاوری افغانستان پټ او ښکاره دښمنان دی الله تعالی دی په دنیا او اخرت کی رزیل او رسوا کړی او الله تعالی دی په دواړو جهانونو وشرموی

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

سیدګل وویل : عبدالله ته وایی چی نه یی ورښایی ملاصاحب هم ستا خبری وکړی
عبدالله وویل کاکا ستا په ما باور راځی چی زه دی راتلونکی نسل د اسلام څخه بی برخی کړم که می داسی زړه وی نو بیا ولی دا کلمه وایم چی اشهدالله اله الا الله واشهد ان محمد عبده ورسوله
سیدګل وویل زما په تا شک هم نه راځی چی ته به د اسلام مقدس دین دښمن یی
عبدالله وویل د ښوونځی په نصاب کی قران عظیم الشان اسلامیات تفسیر مضمونونه وایی او هر مضمون په بسم الله الرحمن الرحیم پیل شوی دی وګوری په ټولو عربی هیوادونو کی ښوونځی شته چی په لکونو زده کوونکی په کی زده کړی کوی عبدالله خپله خبره جاری وساتله وویل کاکا ستا میرمن چی ناوغه شی ته دی تا خوشحاله کیږی چی ښځه ډاکټره یی وګوری او که دی تا چی یو پردی سړی یی وګوری
سیدګل وویل په دی ښځی ډاکټری باندی ګټلو کی می عزت دی که یی پردی سړی ته ښایم د دی څخه خو مرګ غوره دی
عبدالله وویل ودی لیدل چی په پردی سړی د ښځی ګټل څومره سخت کار دی او بیا به په هغی حالات کی څومره سخت وی چی نه دی ورسره هیواد شریک وی او نه دی ورسره دین او وواېه کاکا دا ښځی ډاکټرانی څه پریښتی خو ندی چی د اسمان څخه به راشی بلکی زمونږ او ستاسو خورګانی او لورګانی دی چی تعلیم کوی او دغی ځای ته رارسی
حمید او سیدګل په داسی انداز سر وخوځاوه لکه چی پوهه شوی وی
تر مازیګر پوری کار او خبری روانی وی په دغه ورځ وختی کور ته راغلل صدیق کور کی نه و

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

جمال وویل ما په کوڅه کی ولید ویل یی پټو ته چکر وهی د ماښام ازان ته لږ وخت پاتی و دروازی کړس وکړ ټولو دروازی ته وکتل صدیق په دروازه راننوت د ماښام مونځ په جمعه ادء شو ډوډی وخوړل شوه د ماخوستن مونځ هم په جمعه ادء شو د تیری شپی په شان ټول پریوتل حمید او عبدالله تر ډیره خبری کولی په اخرکی په حمید او عبدالله هم خوب غالب شو د حقیقی دنیا څخه یی د ځان سره خیالی دنیا ته بوتلل .

د سهار د لمانځه ازان ورته د خوب څخه د لمونځ غوره والی اعلان کوو ټول یو په بل پسی د جومات په لوری لاړل د جمعی وروسته حمید او عبدالله د غونډی لوری ته او سیدګل او صدیق د کور په لوری لاړل حمید او عبدالله په خپلو مینځونو کی خبری کولی عبدالله په ښار کی یی هرڅه د لاس رسی وړ بلل خو د کلی ژوند یی تری غوره ګاڼه عبدالله وویل هلته یو کس بل کس نه پیژنی ګاونډی به یی وی خو لیدلی به یی هم نه وی ځکه اجتماعی خوی نه لری کلیوال یو بل پیژنی ژوند یی ښه وی ښه او بد یی شریک وی که غم وی هم ټول درسره پری غمجن وی او که خوشحالی وی هم ټول درسره پری خوشحاله وی دلته هر څه وړیا دی خو په ښار کی هر څه په پیسو ترلاسه کولی شی

حمید وویل ایا په ښار کی خلک زیات وی؟

عبدالله وویل هو د ښار زیات نفوس هوا هم ککړه کړی دلته څوک دومره نه وی زهن ارام وی خو هلته ټوله ورځ ناری جوړی وی دواړه په خبرو خبرو کی د کور په لور راغلل چای تیار و د چای څښلو وروسته حمید عبدالله او سیدګل د کار په لور لاړل کار نور ختمیدو نن یی اخری ورځ وه صدیق بیا کټ کی کښیناست او د شنو چایو په څښلو یی پیل وکړ د پرون ورځی د سبو صفتونه یی کول او د سبو ګټی یی بیانولی د کار په ځای کی حمید او عبدالله د جغرافیه بحث شروع کړی و حمید د عبدالله وپوښتل دا افغانستان څومره

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

پراخوالی لری عبدالله وویل افغانستان شپږ لکه دوه پنځوس زره دوه سوه پنځه ویشت کیلو متره مربع مساحت لری حمید وویل دا ځومره لوی هیواد دی عبدالله وویل افغانستان په اسیا کی لسم لمبر لوی هیواد دی عبدالله وپوښتل دلته امنیت څنګه دی حمید وویل د ظاهر شاه عسکر دی ځوک تری سر هم نشی پورته کولی

عبدالله وخندل وویل د احمدشاه وروسته دا یو حکومت امنیت لری نورو ټولو تر خپله وسه په افغانستان کی نا امنی راپیدا کړه یو امان الله خان و هغه یی هم پرینښود

سیدګل وویل هو که امان الله خان په واک کی پاتی شوی وی په افغانستان کی به دا غربت نه وی

حمید وویل خلک وایی امان الله خان کافر و او پر هغه جهاد روا و

سیدګل وویل یوه ورځ ملاصاحب ته چا دا خبره وکړه هغی ورته وویل د امان الله خان نه بل کوم لوی مجاهد به وی امان الله خان افغانستان د کفارو د ولکی څخه خلاص کړو مونږ پوهیږو امان الله خان تیروتنی وکړی مګر په دی باندی ځوک نه کافر کیږی هغه خو د کفارو چل و چی د امان الله خان خلاف یی خلک قیام ته پاڅول اوس وګوره همغه خلک دی د امان الله خان وخت کی چی یی څه ته کفر ویلی اوس یی روا بولی اسلام د پرمختک او ترقی دین دی او امان الله خان هم په همدی لاره روان و تر څو افغانان د ناپوهیو او جاهلیت د تیارو څخه راوباسی مګر د اسلام او افغانستان دښمنانو هغه دغی کار ته پرینښود او جاهل افغانان یی پر خلاف راپاڅیدل سیدګل خپله خبره اوږده کړه وویل د ملاصاحب پرمختګ زیات خوښیږی په دی خاوره زیات خپه کیږی افغانانو سره د زړه څخه مینه لری هغه وایی افغانستان یی د زیږیدو ځای دی د خپل وطن سره مینه د محمد صلی الله علیه وسلم عمل یادوی دا حدیث یی تل په خوله جاری وی حَبُّ الْوَطَنِ مِنَ الْاِیْمَانْ سیدګل غلی شو

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

عبدالله وویل داسی علماء چی په خپل هیواد خپه کیږی د پرمختګ لیوال وی غواړی اسلام پرمختګ وکړی مسلمانان په اتحاد کی شی او د کفارو لوی مانې بیا داسی راوپرځوی لکه اصحابو چی د روم پارس او سند حکومتونه راونړول که زیات شی نو دا وران افغانستان چی اوس د ولږی د لاسه کفارو ته لاس نیسی په قوی او غښتلی افغانستان به بدل شی

حمید وویل دلته خو علماء په خپل منځ کی بی اتفاقه دی یو وایی زه حنفی یم بل وایی زه سلفی یم بل ته بدعتی وایی بل ته پنجپیری وایی بل ته حنبلی وایی اسلام یی توټی توټی کړی خلک یی هم یو د بل څخه لری کړی که لومړی دوی په اتفاق شی په خپله به افغانستان اباد شی عبدالله د ختو ټاټکی ډک کړ حمید ته یی ورکړ او حمید سیدګل ته ورکړ

عبدالله وویل : دا د کفارو دسیسی دی چی مسلمانان یی ډلی ډلی کړل او یو د بل څخه یی نفرتونه پیدا شول ستونزه دلته ده چی احناف د حنفی فقهی کتابونه ګوری مګر د هغه مخالف کتابونه نه ګوری سلف د سلفی فقهی کتابونه ګوری مګر د مخالف هغه یی نه ګوری بلکی د هغی فقهی ضد دلایل راټولوی که د احناف دلیل قوی وی باید د حنفی فقهی څخه کار واخیستل شی که د سلفو دلیل قوی وی د سلفی فقهی څخه کار واخیستل شی که مونږ د یو موضوع ښه اړخ لټوو باید مخالف اړخ یی هم ولټوو هغه وخت ستونزه حل کیږی سیدګل یی خبره تاید کړه وویل یوه ورځ د احنافو جومات کی می خطبه اوریده ما ویل چی احناف په حقه دی سلف ناحقه دی بله جمعه کی می د سلفو په جومات کی خطبه اوریده فکر می کوو چی سلف په حقه دی احناف ناحقه دی تل یو د بل په ضد کی لګیا دی په همدی خبرو وخت تیروی مازیګر ناوخته کار ختم شو کور ته راغلل د ماخوستن ډوډی وروسته ټول ویده شول حمید او عبدالله هم ډیر ستړی وو د پریوتو سره د دی دنیا ناخبره شول او د خوب نړی ته لاړل د سهار ازانونو د خلکو سترګی پرانیستلی د لمانځه وروسته حمید او عبدالله د عسکری کیسی کولی

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

عبدالله ویل چی څه موده وروسته عسکری ته ځی
حمید وویل زما هم زړه کیږی مګر اوس اقتصادی ستونزی زیاتی دی که خیر و راتلونکی کال ته به دا هم عسکری ته ځی حمید او عبدالله په خبرو مصروف و د ظاهرشاه د پاچاهی کیسی یی کولی دواړو د خلکو د اقتصادی ستونزو شکایت کوو خو د ظاهرشاه د واکنۍ په غوره کارونو یی هم سترګی نه پټولی څه وخت وروسته د پیالو تاونه پورته کیدل دسترخوان ښځو او سړو کلابند کړی و صدیق د کلی د ډوډی صفتونه کول داسی خبری یی کولی لکه د کلی په ګوډ ګوډ کی چی خوشحالیانی وینی د چای وروسته د پیالو رنګ په شین رنګ واوښت اوله ورځ وه چی سیدګل صدیق عبدالله او حمید یو ځای شین چای څښلو د چای وروسته حمید او عبدالله د کور خخه ووتل
حمید وویل راځه عبدالله نن به برکلی ته ورشو زما یو ملګری دی هغه به هم ووینو او چکر به هم ووهو
عبدالله وویل چی ستا خوښه وی راځه د سعید د کلی میدانی ته دواړه لاړل سعید یی پیدا کړ عبدالله د ډیر مزل څخه وروسته زیات ستړی شوی و
حمید سعید ته وویل دا عبدالله دی د کاکا ځوی می دی د ښار څخه راغلی ښار کی په یو ښوونځی کی شاګردانو ته تاریخ کتاب تدریسوی
سعید خان خوشحاله وښود د سعید له په حجره کی سړی پیالی په تودو پیالو بدلی شوی سعید چای چوش لړ وړاندی کیښود عبدالله د ښار کیسی کولی حمید او سعید یی خبری په دقت اوریدی سعید ته د عبدالله خبرو خوند ورکړی و د همدی له امله تر اخره عبدالله

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

غړیده کله کله به حمید کومه خبره په ولکه کی واخیسته نور به نو عبدالله د خبرو لمبر نیولی و د چای څښلو وروسته د سعید د پاتی کیدو د ډیر ټینګار سره بیا هم حمید او عبدالله د حمید له کلی ته راغلل د غرمی ډوډی وروسته لمونځ په جمعه باندی وشو

د عبدالله مور د حمید مور ته وویل راځه دی بل کلی کی چی کوم زیارت دی هغی ته به ورشو هغه زما د لور ځوی نه کیږی که الله مهربانه شی او ور یی کړی

حمید خپلی کاکا ښځی ته وویل دا کار مه کوه دا د الله تعالی سره شریک ګرځول دی او دغه ګناه د ښښلو وړ نده د دی په ځای د الله تعالی څخه دعا غواړه ځکه الله تعالی په قران عظیم الشان کی فرمایی ••• وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِی عَنِّی فَإِنِّی قَرِیبٌ ۖ أُجِیبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْیَسْتَجِیبُوا لِی وَلْیُؤْمِنُوا بِی لَعَلَّهُمْ یَرْشُدُونَ•••او [اې پیغمبره (ص)] زما بندګان که ستا څخه زما (د لیری والي یا نژدې والي) په اړه پوښتنه وکړي؛ نو هغوی ته ووایه چې زه ورته ډېر نژدې یم: بلونکی چي کله ما وبلي، زه د هغه بلنه اورم او ځواب ورکوم، نو هغوی ته ښایي چي زما بلنې ته لبيك ووايي او پر ما ایمان راوړي (ته دا خبره هغوی ته واوروه)، کېدای شي چي سمه لاره ومومي.•••البقره ۱۸٦•••

د کاکا ښځی یی وویل هغوی نیکان خلک و الله تعالی د هغوی غوښتنه بی ځای نه بیایی

حمید وویل ایا هغه ستا لپاره په مړینه دعا غواړی

د کاکا ښځی یی وویل هغوی خو دعا نه ورکوی بلکی پیران دعا ورکوی ګوره هغه ټوله ورځ ازکار وایی

حمید وویل هغوی خپل مونځ نه کوی او کوم یو یی چی کوی هغه یی هم د ریا لپاره کوی

د کاکا ښځی یی وویل حمیده باباګانو پسی خبری مه کوه داسی نه څه دربانډی وکړی

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

حمید وخندل بیا یی وویل پر ما هیڅ هم نشی کولی ځکه د خیر او شر اراده الله تعالی کوی الله تعالی په خپل قران عظیم الشان کی فرمایی •••كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ۗ وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ۖ وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ•••هر ساکښ د مرګ د خوند څکونکی دی، او موږ په ښو او ناوړه حالاتو کښي په غورځولو سره په تاسي ټولو ازمېښت کوو. په پای کښي همدا زموږ لوري ته ستاسي راګرځېدل دي.•••الانبیاء ۳۵•••دلته الله تعالی وایی په خیر او شر کی د بنده مبتلا کول زما کار دی او د کاکا ښځی کله مو د دی پیرانو څخه پوښتنه کړی ده چی ایا تاسو سره د جنت ټکټ دی که د جنت ټکټ یی درلود سمه ده نورو ته دی دعاګانی کوی که د جنت ټکټ یی نه درلود نو خپل اعمال ولی نه صحیح کوی دی خلکو د نیکانو د قبرونو څخه بازارونه جوړ کړی او پیسی پری ګټی

د کاکا ښځی یی وویل هغوی خو د چا پیسی نه غواړی خلک یی پر خپله ورکوی

حمید وویل د کاکا ښځی تاسی چی په خپله دلته راځی نو مونږ ته حاجت شته دی چی تاسو ته د راتلو لپاره وو ایو؟

د کاکا ښځی یی وویل نا .

حمید وویل نو د هغوی مثال هم زمونږ شو چی چا تا د ویلو حاجت نه لری الله تعالی وایی زه ستاسو دعاګانی په خپل دربار کی قبلوم که قبولی نه شوی د هغی اجر او ثواب په اخرت کی درکوم په بل ځای کی الله تعالی فرمایی •••وَلِلَّهِ الْأَسْمَآءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِىٓ أَسْمَٰٓئِهِۦ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ••• الله د غوره نومونو مسحق دی، هغه په هماغه غوره نومونو سره وبلئ. او هغه خلك پرېږدئ چي د هغه د نوم په ایښودلو کښي له رښتینولی څخه مخ اړوي؛ څه چي هغوی سرته رسوي د هغه بدله به ومومي.•••الاعراف ۱۸۰••• حمید خپله خبره اوږده کړه وویل زیارت ته د تګ په ځای کور کی دوه رکعته مونځ وکړی او د الله

ليکوال : ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

تعالی یی وغواړی د شپی اخری حصه کی د تهجد لمونځ وکړی او د الله تعالی یی وغواړی هم به دعا وکړی هم به نیک اعمال وکړی هم به مو په کور کی برکت پیدا شی
د حمید خبرو یی د کاکا په ښځی تاثیر وکړ وویل الله تعالی دی مونږ وبښی مونږ څه پوهیدو دا دومره بد کار دی
عبدالله هم د حمید خبری تاید کړی او خپلی مور ته یی د دی کار د نه کولو وویل بیا یی حمید ته مخ راواړه و ورته وویل ما په مور زیاته وسه وکړه خو قناعت یی نه کوو ښه ده ستا په خبره یی قناعت وکړ حمید او عبدالله حجری ته ووتل
د عبدالله مور د حمید مور ته وویل ستا دا ځوی خو ملا دی ځومره زیات دین ورته یاد دی دا یی چیرته ویلی
د حمید مور وویل د کلی ملاصاحب دی خیر یوسی د کلی هلکان ورځی قران او حدیث ورته ښایی ما هم تری اوریدلی ویلی دا د شیطان کړنه ده شیطان تل د کفر لاره ښایسته کوی او خلکو ته د هغی د دفاع لپاره بیلا بیلی لاری ښایی
د عبدالله مور وویل تا تری چیرته واوریدل
د حمید مور وویل ملاصاحب ښه سړی دی کلیوالو ته یی ویلی و چی په روژه کی دی ښځی زما کور ته راځی ما چی کله سړو ته ترجمه کوله ښځی به یی هم اوری د الله د دین او احکامو به خبریی شي د خاوند اولاد او خپل حقوق به وپیژنی بیا به ښځی ورتلی د پردی شا ته به ناستی وی ډیر قران مو په کی یاد کړو د الله د دین ځخه خبری شو مخکی خو کنی و د هیڅ هم نه و خبر د عبدالله مور ملاصاحب ته په دی خاطر دوعاګانی وکړی چی ښځی یی د الله د دین ځخه خبری کړی دی
حمید او عبدالله په خپلو کی سره خبری کولی حمید عبدالله ته د جلال صفتونه کول وروسته یی ورته د جلال د خسر لخوا د ټاکل شوی ولور کیسه وکړه

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

حمید وویل جلال او کورنی یی خیر ته کښېنول اوس دومره څه نه لری چی د ستونی یی تیر کړی جلال په ښار کی مزدوری کوی د خپلی میرمنی سره یی ژوند ښه ندی
عبدالله وویل زمونږ د پښتنو دا خراب او بیکاره رواجونه به کله ختمیږی د بل د کور ژوند تباه کړی او خپل ژوند پری تیروی وایی چاته چی څه شی ګران وی بل ته یی تحفه کی ورکوی مګر د افغانانو ټولنه یی خرڅوی او نرخونه پری ږدی وایی زما لور د ډیر څه لایق ده
حمید وویل چی چاته ګران وی پښتنو خو لورګانی بدی شی فکر کوی چی په دی باندی به یی د لور قدر زیات شی خو هغه نوره هم سپکوی ښکاره که ورسره هر څوک هر څومره ښه چلند وکړی خو زړه یی ورته د کرکی ډک وی
عبدالله وویل که د دی ګناه په خلاف علماء راونوځی او د بندولو هڅه یی ونکړی د بیشمیره کورنیو ژوند به هلاک شی
حمید وویل زمونږ د کلی ملاصاحب د هغه چا نکاح نه تړی چی ولور په کی اخلی د جلال نکاح یی هم نه تړله ویلی ولور حرام دی که روا وی نبی علیه الصلاة والسلام به د خپلو لورګانو په بدل کی ډیر لوړ ولور اخیستی ولور نبی علیه الصلاة والسلام د خپلو نیکو او د هر څه غوره بیبیانو په بدل کی ندی اخیستی زمونږ دا بیکاره لورګانی څه شی دی وروسته بیا د جلال پلار ویل دا جنی پریږدو خو د جلال کاکاګانو ورته ویل مه مو شرموه بیا به خلک وایی ولور یی نه شو ورکولی لور یی پرینوده ملاصاحب هم د جلال خبره تایدوله ویل یی که د داسی خلکو لورګانی پرینودلی شی دا خراب رواج به له منځه لاړ شی د جلال کاکاګانو پری زیات زور راوړ اخر کی یو ملا د څو پیسو په بدل کی ناروا کار روا کړ
عبدالله وویل داسی عالمان دی خدای په هر ځای کی پیدا کړی

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

حمید امین وویل بیا یی خپلی خبری ته دوام ورکړ وویل د همدی ملاصاحب د غوره اسلامی خبرو څخه ټول کلیوال د تأثیر لاندی راغلی څوک ولور نه اخلی په لورګانو ظلم نه کوی داسی ورته ګرانی شوی لکه زامن چی ورته ګران دی حمید د ملاصاحب زیات صفتونه وکړل ملاصاحب یی د دین دفاع کوونکی وبلو مازیګر د مناری پورته شوی اواز الله لوی وګڼلواو توحید یی ورله بیان کړ محمد صلی الله علیه وسلم یی د الله رسول وګڼو مونځ ته د راتګ غوښتنه یی وکړه جومات یی د کامیابی ځای وګڼلو الله تعالی یی لوی وګڼلو او د دوهم ځل لپاره یی د الله تعالی په توحید ګواهی ورکهړ حمید او عبدالله جومات ته راغلل صدیق او سیدګل تری مخکی راغلی وو د لمانځه وروسته حمید او عبدالله د غونډی لوری ته لاړل غونډی د کلی جنوب لور کی واقع وه ختیځ ته یی د اوبو ویاله بهیده د ویالی ښکته طرف ته پټی و چی د ویالی به اوبه کیدل د غونډی دغه سیمه ډیره ښکلی ښکاره کیده بیا د غونډی لویدیځ لور ته غر وو داغر ټول ځنګل و کلی د غونډی شمال ته پروت و د غونډی شاته د لوبو میدان و چی هلکانو به په کی وزګار وخت کی لوبی کولی د میدان اخوا څو نور کلی و بیا به د سعید له کلی رارسید غونډی ټوله شنه وه هر ځای کی یی ډبری پرتی وی د غونډی په یو نیم ځای کی د غوړاخکی بوټی هم و د کلی څخه ښار ته د شمال د لوری لاره تللی وه

عبدالله د کلی په صفت پیل وکړ وویل دا څومره ښکلی ځای دی هر لوری شین دی ستا به نو دلته څه زړه تنګ شی

حمید وخندل وویل هو کله چی می زړه تنګ شی دی غونډی ته راځم زهن می ایله ارام شی

عبدالله وویل خو ما هم درسره راوله کنه

حمید وویل ته چیری یی په کال کی هم زمونږ پوښتنه نه کوی

عبدالله وویل مصروفیتونه دی څه ورسره کوی ډوډی هم تری نشو خوړلی

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

حمید وویل ښه نو بیا دلته کډه راوړی دلته هیڅ مصروفیتونه نشته
عبدالله وویل خبره خو دی ښه ده مګر زمونږ هر څه ښار کی دی په ښار کی به د کور څخه تول بهر کارونه سړی کوی دا ځای ښه دی سړی دومره مصروفیت نه لری دوی دواړه په خبرو لګیا و د ماښام ازان دوی ته ور په یاد کړه چی روښنایی په تورتم بدلیږی او لمر خپل ځای ستورو او سپوږمی ته پریږدی د ماښام له لمانځه وروسته دواړه یو ځای د کور په لوری لاړل
صدیق خبری کولی تولو غوږ ورته نیولی و وویل سیدګله ته خو خبر یی ما خپله دریمه لور ورکړی د هغی خسرګنی واده پسی راغلی و ما هم ورکړ
سیدګل وویل ښه دی کړی دی چی واده دی ورکړ ملاصاحب ویل کله چی دی لور چاته ورکړه د هغی خوښه ده چی څه وخت یی درڅخه بوله ستا د انتقاد حق نشته
صدیق وویل ما هم اوریدلی و دی راتلونکی اونی نه بلی اونی ته به یی واده وی تاسو ملاصاحب جانباز او څو نور مخور کلیوالو ته می خبر دی چی بیا راشی ته یوه یا دوه ورځی مخکی راشه تول درسره راوله
سیدګل د ښه په ښه سر اوخورو صدیق د خپلی لور د خسرګنی په اړه خبری کولی حمید او عبدالله به کله کله په خپل منځ کی پوساری کوو نور غلی وو شپه تیره شوه رڼایی خلکو ته لاره ښودله او دا خبر یی ورکووچی خپلو کارونو ته لاړ شی حمید او عبدالله تر مازیګره پوری ښه چکری ووهلی د مازیګر مونځونو وروسته عبدالله صدیق د صدیق میرمن د عبدالله خور او د حمید خور ښار ته د خپل کور په لوری لاړل . بلی اونی ته واده وشو حمید له بیرته خپل کور ته راغلل حمید څوک نه درلود دزړه خواله ورسره وکړی کارونه هم نه و تیوله ورځ به خپه و څه وخت د کلی د ځوانانو سره غر ته لاړی میاشت ووته د مازیګر وخت و حمید د کلی په تنګو

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

کوڅو کی چی دواړو خواو ته یی د ختیو کاره دیوالونه و که کوم نابلده کس به و فکر به یی کوو اوس به پری دیوال راالیړی نو په منډه تری وتو روان وپه کوڅه کی راروان کس چی سپینی جامی یی اغوستی وی نصواری پکول یی ویښتان پټ کړی و او توری ږیری یی د مخ ښیره ښایسته کړی وه په لیدلو یی د حمید په شونډو موسکا راغله او د تندی ګونځو د لری کیدو سره یی تندی د بحر د سطحی په شان اوار شو ورمنډه یی کړه په غیږ کی یی کلک ونیو او وویل جلاله کله راغلی

جلال وویل همدا اوس راغلم

حمید وویل اشنا زیات درپسی خپه شوی وم

جلال وویل زه هم درپسی زیات خپه شوی وم او ته خو ښه وی کورنی خو به دی لیدله ما خو هغه هم نه لیدله وګوره د هغه چاغ

جلال څخه څه شی جوړ شوی د غوښی څرک راباندی نه لړی

حمید وویل وویل کلی ته راغلی کله چی دی ټول ولیدل بیا به درباندی د غوښو امبارونه ودریږی اوس وایه ښار کی څه حالت و ؟

جلال وویل خیر او خیرت و هلته می زیات ملګری پیدا کړل تل به می ورته ستا صفت کوو

حمید وویل هسی می ځان ته مه غره کوه

جلال وویل نا واقعیت درته وایم زه ډیر بختور یم چی ستا په شان ملګری لرم

حمید وویل ښه خلک د نورو ښه بیانوی او بد خلک د نورو بد بیانوی ته په خپله ښه انسان یی ځکه زما ښه بیانوی حمید خپله خبره وغځوله وویل ښنګه کور ته ورغلی وی ؟

جلال وویل نا لومړی می دا دی ته ولیدلی

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول                    ځنګلی ځناور

حمید وویل کور ته ورشه ټول به درته خوشحاله شی
جلال وویل سمه ده بیا به ګورو دواړو خدای پامانی سره وکړه د تګ په وخت کی حمید وویل دلته ځو ورځی تیروی جلال وویل یواځی دری ورځی تیروم
حمید وویل دا کمی نه دی لږی ډیری ورځی خو به دی تیری کړی وی
جلال وویل اوس می هم په ډیره سختی رخصت راواخیست کارونه مو بیخی ډیر دی
حمید وویل سمه ده ته اوس کوره ته لاړ شه ټول به درپسی خپه شوی وی دواړو یو بل ته غیږه ورکړه جلال کور ته لاړ او حمید په کږو وږو کوڅو کی د سترګو پناه شو
شپه تیره شوه د سهار مونځونه په جمعه وشو د چای څښلو وروسته حمید د باندی ووت د کلی په کږو وږو لارو کی چی د قدم اخیستو سره به ګردونه په هوا کیدل روان و کابو پنځلس دقیقی د کلی په کوڅو کی ګرځیده اخر د جومات د دروازی تر څنګ د ویالی په پوله کښیناست د شا ته څخه غږ وشو حمیده څنګه دلته ناست یی حمید شاته مخ واړو جلال و د جلال په لاس کی د سګرټو څخه پورته شوی دودونه هوا خړه کړی وه د حمید خواته راغلی حمید د سګرټو د بوی او لوګی سره حساسیت وخود او د فرنجی د اواز څپو یی په هوا کی یو د بل سره ټکرونه کول جلال پوهه شوچی حمید د سګرټو سره حساسیت لری نو یی زر تر زره سګرټ مړ کړ او ویالی ته یی ګوزار کړ حمید تر یو وخت پوری فرنجی کول اخر یی فرنجی قلار شو
جلال ته یی وویل دا څه کوی ته او دا سګرټ فکر می نه کوو ته به سګرټ شروع کړی
جلال وخندل او وویل سګرټو کی څه شی دی

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

حمید وویل ته نه ګوری زه یی کوم حالت ته ورسولم
جلال وویل ستا لپاره به بد وی په ما خو هیڅ هم نه کوی
حمید وویل دا نشه ده او نشه حرامه ده
جلال وویل سګرټ چا نشه کی راوستی
حمید وویل هر هغه څه چی د انسان دماغی حالت تر خپلی ولکی لاندی راولی نشه ده حدیث کی راځی ••• عَنْ أُمِّ سَلمَةَ رَضِی الله عَنْهَا قَالَتْ نَهَی رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم عَنْ کُلِّ مُسْکِرٍ وَمُفْتِرٍ•••رواه ابو داود••• د ام سلمة رضی الله عنها څخه روایت دی چی پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هر هغه څه استعمال چی نشه راولی عقل خرابوی او یا یی له منځه وړی منع کړی ده او بل ځای کی عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چی پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل هر هغه شی چی مستی او نشه راولی حرام دی او هر هغه چی زیات یی نشه راولی لکه اندازه یی هم حرامه ده •••رواه ابن ماجة••• کله چی ته لاړی زما کاکا او کورنۍ یی د ښار څخه راغلی و ته خو پوهیږی هغه ډاکټر دی هغه ویل سګرټ د سرطان ناروغی پیدا کوی د حنجری پیپ توروی ساه بندی ناروغی پیدا کوی د خوله څخه بوی ځی په دماغو ډیر بد اثر کوی یعنی د زیاتره ناروغیو په رامنځته کولو کی سګرټ رول لری او ګوره پیسی هم پری بی ځایه مصرفیږی
جلال وویل څه کوی کارونه ډیر وی انسان ستړی کیږی کله چی دا وڅکم الا می طبیعت برابر شی کنه ټوله شپه به د درد د لاسه خوب نه کوم

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

حمید وویل بلدیری ورسره دا د شیطان لاره ده چی انسان ته یی اسانوی کنه نعوذ بالله محمد صلی الله علیه وسلم درواغ ویلی دی چی نشه د انسان زهن خرابوی

جلال وویل محمد صلی الله علیه وسلم هیڅکله درواغ ندی ویلی نو بیا دا خبره څوک وکړی چی محمد صلی الله علیه وسلم مونږ ته د اسلام په رارسولو کی زیاتی کړی

حمید وویل څوک چی محمد صلی الله علیه وسلم بهتان وتړی دا په دی بهتان کافر دی

جلال وویل ته سمه خبره کوی خو په ښار کی سګرټ عادی خبره ده ځوان او بوډا لا څه کوی ماشومان یی هم څکی نو زه هم پری روږدی شوم

حمید وویل یو خو پښتو کی متل دی چیرته چی اوسی په خوی به د هغو شی او بل د کامل مسلمان نښه داده چی چیری ګناه ته ګناه نه ویل کیږی هلته د ګناه څخه ځان ساتی صحابو ته وګوره د عربستان څخه به راووتل د روم او پارس لوی قوتونه به یی له منځه وړل خو هیڅکله د چا عزت یی لوټ نه کړل د چا مال یی غلا نه کړل د لوی شاهانو د سروزرو په چوکو نه کښیناستل او دا ټول ولی ځکه په هغوی کی کامل ایمان و او بل افغانان خو هیڅکله خپل خوی نه پریږدی وګوره په دی ځای څومره قوتونو حملی وکړلی خو بیا هم دوی دا نه چی غلامی یی ونه کړه بلکی خپل کلتور یی له منځه وړو څخه هم وساته او نورو ته یی خپل کلتور انتقال کړو

جلال وویل نو ښنګه یی پریږدم

حمید وویل وایی یو ځل عالم ته یو کس راغلی ورته وویل زه ډیر زیات سګرټ څښم اوس غواړم توبه وباسم ښنګه وکړم چی دا سګرټ پریږدم

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

عالم ورته وویل که د سګرټ پرېښودلو لپاره هره لاره وی ته یی عملی کوی
راغلی کس وویل هو
عالم ورته وویل هر کله چی دی یو دانه سګرټ څکوو سم د لاسه اودس کوه او دوه رکعته نفل کوه سړی ومنله په اوله ورځ یی لس دانی سګرټ وڅکل لس ځل یی اودس وکړ او شل رکعته مونځ یی وکړ سړی وویل هره ورځ شل رکعته مونځ څوک کوی سبا ته یی یو دانه پرېښود نهه دانی یی وڅکل اتلس رکعته مونځ یی وکړ همداسی په ورو وروکمیدو اخر یی پرېښودل
جلال وویل زیاته مننه حمیده ښه ده چی ستا پشان ملګری لرم او هیڅ بد کار ته می نه پرېږدی
حمید وویل امر بالمعروف او نهی عن المنکر په هر چا لازم دی ځکه الله تعای په سورت توبه کی د منافق صفت داسی بیانوی منافقان هغه کسان دی چی د نیکیو څخه خلک منع کوی او په بدیو امر کوی د مومنانو صفت داسی بیانوی چی په نیکیو امر کوی او د بدیو خلک منع کوی جلال او حمید تر ډیره خبری کولی ښاری خدمتونه یی یادول په ښار کی د موټرو د ګرځیدو کیسی یی کولی ویلی کله چی می ولید حیران ورته لاړم اوسپنه وه او په ځمکه روان و حمید هم تعجب وکړ اخر دواړو خدای پامانی واخیسته
حمید ورته وویل هلکه ګوره سګرټ پرېږده جلال سر د ښه په ښه و خوځو او وویل بیغمه اوسه تا راته وویل او زه به اوس هم سګرټ څښم
حمید وویل زما لپاره نه د الله تعالی لپاره یی پرېږده چی نیکه بدله یی درکړی
جلال وویل الله تعالی دی مونږ وبښی د خولو مو هر څه راوځی مونږ به نوری څومره بدی او شرکی خبری کړی وی

## ليکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

حمید وویل د همدی خاطره خو محمد صلی الله علیه وسلم فرمایی استغفار زیات وایی یو د استغفار په ویلو سره الله تعالی انسان ته رزق ورکوی او بل محمد صلی الله علیه وسلم وایی په اخره زمانه کی به انسان سهار مومن ماښام کافر وی ماښام به مؤمن سهار به کافر وی
جلال وویل همغه زمانه ده وروسته وخت کی به څه حالت وی
حمید وویل الله تعالی دی زمونږ اخره خاتمه په ایمان کړی او د شهادت مرګ دی راکړی
جلال وویل امین
دواړه د خپلو کورونو په لور لاړل د غرمی ډوډی څخه وروسته حمید د جومات لاره ونیوله د شا ورپسی چا غږ کړ ودریږه حمیده حمید شاته مخ واړو جلال و دواړو روغبړ وکړ او یو ځای د جومات په لور روان شول د جمعی وروسته جلال حمید ته وویل راځه غونډی ته به لاړ شو بیخی د غونډی شکل راڅخه هیر شوی دی حمید ومنله د جومات څخه یوه لاره سیده غونډی ته تللی وه دواړو همدغه لاره ونیوله او روان شو د منی موسم خپلی نښی ښکاره کړی وی د بوټو پاڼی په زیړیدو وی د بوټو رالیدلو پاڼو لاری ته زیړ رنګ ورکړی و حمید او جلال د لږ مزل وروسته په غونډی کی خبری کولی
جلال وویل ښار داسی ښکلا نلری یواځی جګی ودانی دی چی پورته ورګتلو لپاره به یی د سر څخه د دی لپاره خولی لری کوی چی د سر څخه دی ونه لویږی د دی ځای پشان شنه پټی او شنی دښتی نلری
حمید وویل جلاله لکه چی په ښار کی دی زړه زیات په تنګ شوی

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

جلال وویل نا اوس به یی زه تاته وښایم چی ما به هلته زړه په څه خوشحاله کوو د ښی طرف جیب ته یی لاس کړی یو څه یی تری راوویستل حمید چی کله ولیدل ورته وویل دا څه کوی ته او دا څیز دا خو لوفران د ځان سره ګرځوی

جلال وویل هر څه ته په بد نظر مه ګوره موسیقی خو یواځی د روح غذا ده موسیقی که څه شی دی

حمید وویل ته د دی څخه خبر یی دا څومره ګناه لری

جلال وویل نا څومره ګناه لری د حمید سره هیڅ جواب نه و چی څه ووایی ناڅاپه یو غټ اواز څپو په غونډی کی انعکاس اخیسته یو چا په حمید او جلال سلام وکړ جلال حمید ته غوږ کی وویل لکه چی ملاصاحب ته د دوو پیسو شو

حمید ورو وویل تا به اوس ملاصاحب پوهه کړی دواړه په خپلو ځایونو ودریدل او سلام ته یی جواب ورکړ

ملاصاحب وویل وه ځوانانو په څه مو لانجه وه

حمید وویل ملاصاحب جلال موسیقی اوری وایی موسیقی کی څه شی دی ملاصاحب مری تازه کړه جلال سر ښکته اچولی و

ملاصاحب وویل جلاله ته او حمید ماته د خپلو اولادونو څخه زیات ګران یی ځکه تا او حمید زیات نیک هلکان یی ته وایی موسیقی کی څه ګناه ده محمد صلی الله علیه وسلم فرمایی چا چی موسیقی واوریده او خوند یی تری واخیست د قیامت په ورځ به یی په غوږونو کی ویلي شوی سکی اچول کیږی وګوره دا څومره سخته سزا ده بل روایت کی راځی یو صحابی او عمر رضی الله عنه چیری روان و دغه وخت د موسیقی اواز راغلی عمر رضی الله عنه په خپلو غوږونو کی ګوتی کینودی ددی لپاره چی د موسیقی اواز وانه وری او هغه بل صحابی چی ورسره روان و هغی ته یی وویل یو ځل زه او رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ځای روان و دغه وخت د موسیقی اواز راغلی نبی علیه الصلاة والسلام په غوږونو کی ګوتی کینودی د سیرت په کتابونو کی راځی کله چی محمد

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

صلی الله علیه وسلم مکی ته راغلی نو ښځو ورته وویل مونږ نظر منلی چی کله ته راغلی مونږ به ستا مخی ته (جمبی )وهو(د موسیقی یو ډول اله دی)نبی علیه الصلاة والسلام ورته وویل تاسو خپل نظر پوره کړی ښځو جمبی وهلی چی دغه وخت عمر فاروق رضی الله عنه راغلی ښځو جمبی وهل پریښودل او د عمر فاروق رضی الله عنه د ویری وتښتیدلی محمد صلی الله علیه وسلم وویل چیری چی عمر وی د هغه ځایه شیطان تښتی یعنی مطلب دا چی موسیقی د شیطان کار دی وایی شیطان الله تعالی ته وویل مسلمانانو ته خو دی ازان ورکړ ما ته هم ازان راکړه الله تعالی ورته وفرمایل ستا ازان موسیقی ده وګوره موسیقی څومره بد کار دی او ډیر زیات زیانونه هم لری ۱زړه کی نفاق اچوی ۲د انسان شهوت زیاتوی ۳انسان بی غیرته کوی ٤انسان د الله د زکر څخه غافله کوی ٥د الهی شکر ضد دی ٦د زنا لپاره تعویذ دی ۷د جهنم لپاره غوره ټکټ دی ۸د دنیا او اخرت د عزاب لامل ګرځی ۹ نور د ملاصاحب څخه هیر شو حمید د لږ زنډ وروسته وویل ۹ د انسان د زړه څخه د الله تعالی ویره لری کوی۱۰ ملایکی شړی او د انسان سره شیطان ملګری کوی حمید هم غلی شو تر لږ وخت پوری ټول غلی و

جلال چوپتیا ماته کړه وویل ملاصاحب زه څه خبر وم دا دومره ناوړه عمل دی په ښار کی ټولو خلکو اوریده ویل یی دا د روح غذا ده

ملاصاحب وویل څوک چی موسیقی اوری اعصاب یی د خپلی ولکی څخه اوځی داسی حالات ته رسیږی لکه نشه چی یی کړی وی جلال د حمید او ملاصاحب په مخکی وعده وکړه چی نور به دا کارونه نه کوی ملاصاحب تری ته په خپله مخه لاړ جلال او حمید تر مازیګر پوری په غونډی کی وو د مازیګر ازانونو وروسته دواړه د کلی جومات په لوری راغلل وختونه تیریدل حمید دوه ویشت کلن شو عسکر راغلل او حمید یی د ځان سره عسکری ته بوت حمید په عسکری کی شامل شو حمید د ډیر جرات او تکړه والی له وجی

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

په پوځ کی نوم پیدا کړ په لږ وخت کی ډیر هغه مجرمان د قانون منګولو ته وسپارل چی حکومت یی په نیولو کی پاتی راغلی و د پاچا په امر یی رتبه جګه شوه او د لس کسانو قومندان وټاکل شو بله ورځ د یوی دوسی د څیړلو لپاره د ښار ښوونځی ته لاړ حمید د عسکرو سره یو ځای په ټولګیو ګرځیده د یو ټولګی مخی ته تیریده چی د ښوونکی د غږ په اوریدو سره هک پک ودرید دروازه یی ور ټک ټک کړه د دننه څخه اواز راغلی مهربانی وکړی راځی حمید چی کله ټولګی ته داخل شو عبدالله یی ولید عبدالله چی کله په حمید سترګی ولګیدی ډیر ښکلی ورته ښکاره شو ښکلی دریشی پوځی خولی وسله هم ورسره وه او شاته یی عسکر هم و یو بل ته یی غیږه ورکړه عبدالله زیات خوشحاله و چی حمید یی ولید خو د عبدالله حمید زیات خوشحاله و ځکه ځو میاشتی کیدلی خپل خپلوان یی نه و لیدلی حمید عسکر رخصت کړل او د شپی لپاره د عبدالله سره لاړ کله چی یی خور خپل وررور ولید په بیړه راغله سترګی مشی یی ورسره وکړه د عبدالله پلار او ټوله کورنی زیاته خوشحاله وه حمید شپه د خپل کاکا په کور کی تیره کړه او په نظامی دریشی کی بیرته خپل مرکز ته لاړ ورځی تیریدی کله به حمید د خپل کاکا کره ورغلی او کله به بیا عبدالله د حمید خواته راته څو میاشتی تیری شوی قومندان حمید او څو عسکر د یو لږ عملیاتو لپاره ولیږل نیم ساعت وروسته یو عسکر د قومندان خونی ته په ورخطایی ننوت سلام یی وکړ هغه لا تیارسی نه و ودریدلی چی قومندان وپوښتل ولی خیر خو دی څنګه ورخطا یی

عسکر وویل قومندان صاحب د حمید د کاکا ځوی راغلی و حمید یی لټوو ډیر زیات ورخطا و کله چی ما پوښتنه تری وکړه چی خیرت خو دی نو راته یی وویل د حمید پلار مړ دی راغلی یم چی حمید ته خبر ورکړم قومندان هک پک ودرید د ځان سره یی وویل انا لله وانااليه راجعون

## ليکوال : ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

عسکر وویل هغه بهر تاسو ته په تمه دی قومندان او عسکر د باندی ووتل عبدالله ورخطا په دهلیز کی انتظار کوو د قومندان په لیدلو یی د قومندان سره ستړی مشی وکړه قومندان وویل حمید ډیر پیاوړی او خوش اخلاقه ځوان دی د پلار په مرګ یی زیات خواشینی شوم الله دی حمید ته او د هغی کورنی ته صبر جمیل ورکړی

عبدالله امین وویل بیا یی قومندان ته وویل تاسو حمید راوغواړی او کلی ته یی راولیږی زه به همدا اوس کلی ته روان شم که حمید ته صبر کوم ناوخته کیږی قومندان ډاډ ورکړ عبدالله د کلی په لور روان شو قومندان یو عسکر ته ورغږ کړ ورته وویل حمید پسی لاړ شه ورته ووایه قومندان صاحب په بیړه غوښتی یی بیړه وکړه عسکر لاړ کابو لس دقیقی وروسته حمید راورسید د حمید د رارسیدو د مخه ټول عسکر خبر شوی و

قومندان وویل مرګ او ژوند د الله تعالی د طرفه وی الله تعالی دی تا ته صبر درکړی صبر غوره ځیز دی الله تعالی فرمایی •••إِلَّا الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْر••• پرته له هغو خلکو څخه چي ایمان يې راوړی او ښه عملونه کوي او يو بل ته د حق نصيحت او د صبر ښودنه کوي.•••العصر ۳•••ته هم صبر وکړه الله تعالی به یی ښه بدله درکړی

حمید په حیرانی وویل ولی قومندان صاحب څه شوی دی

قومندان وویل خبره نه اوږدوم ناوخته کیږی الله تعالی دی ستا پلار وبښی د دی فانی نړی یی رحلت کړی دی حمید په مخ اوښکی راغلی وویل زما پلار خو هیڅ ناروغه نه وو نو بیا په څه مړ دی

قومندان وویل ځنګل ته د لرګو راوړلو لپاره تللی و ځناورو خوړلی حمید په مخ اوښکی داسی راروانی وی لکه د اوری باران په ژړغونی اواز یی وویل تاسو ته دا خبر چا راوړ

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

قومندان وویل ستاسو د کاکا ځوی عبدالله
حمید وویل هغه څه شو قومندان وویل هغه لاړ کلی ته ما ته یی وویل چی حمید راولیږه راځه ستا هر څه مونږ راخیستی قومندان حمید او څلور عسکر چی په وسلو یی ځانونه سمبال کړی و په موټر کی کښیناستل اوموټر د کلی په لور په چټکی روان شو د سیدګل جسد د حمید د ورتګ وروسته د ماښام په وخت کی د خاورو لاندی شو په فاتحه کی یی ټولو خلکو د خو خوینو یادونه کوله ملا صاحب د ماخوستن ډوډی وروسته یو لنډ بیان وکړ مرګ یی حق وبللو او وویل سید ګل ته الله تعالی د شهید توب مقام نصیب ورکړو د شهیدانو ډیری لوړی مرتبی دی په سهار قومندان بیرته خپل مرکز ته راستون شو حمید څو ورځی فاتحه اخیسته د یوی اونی وروسته د حمید کاکا حمید او عبدالله ته وویل زه به تر یو وخت پوری دلته اوسم فاتحه به هم واخلم او کور به هم لږ ډک وی تاسو خپلو دندو ته لاړ شی د حمید زړه نه کیده خو د کاکا په ټینګار یی د دندی په لور روان شو د تګ په وخت کی یی مور په غیږ کی ونیو ټولو ښه ډیر وژړل اخر حمید او عبدالله د ښار په لور رارروان شول حمید ته په مرکز کی ټولو عسکرو فاتحه وکړه او خپله غمرازی یی ښکاره کړه حمید تر ډیره وخته حالت خراب و دندی ته یی زړه نه کیده یوه دقیقه به د ساعت پشان پری تیریده خپلی مور او کشری ورور ته یی زیاته سوده وه چی هغوی به څنګه وی کله کله به یی ځان ته ډاډ ورکوو ویل به یی کاکا ورسره دی څو میاشتی تیری شوی
د ژمی موسم او د ښنبی ورځ وه شاوخوا سیمو باندی سپینه واوره پرته وه د سهار وخت و نری نری باد لګیده قومندان حمید او او عسکر د سهار چای څښلو ته ناست و او د چای څښلو یی خوند اخیست د دسترخوان په کوز سر کی یو عسکر خبری ته خوله جوړه کړه وویل قومندان صاحب هغه په ځنګل کی یی چی څو کسان وژلی و د هغه کس نیول څنګه شو ټولو قومندان ته وکتل قومندان د

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

چایو غرف وکړ وویل نا تر اوسه یی معلومات ندی شوی بیا یی حمید ته وګتل وویل حمیده د دی څیرنی لپاره ما په تا باور وکړ دا خبره وڅیره او مجرم ونیسه حمید د خا په بنه سر وخوځو د چای څښلو وروسته حمید د هغه کس په اړه معلومات پیل کړل څو هغو کورونو ته ورغلی چی داسی قتلونه په کی شوی و یوه میاشت تیره شوه حمید کس پیدا کړی و یواځی د نیولو لپاره یی انتظار کوو د هغه کس د نیولو وخت راورسید خو حمید د قومندان سره مصروف و قومندان ورخطا ښکاریده د مرکز په جوړولو لګیا و د مرکز امنیت یی خوندی کړ د حمید سره یو ځای د وسلو ډیپو ته لاړ ډیپو یی د نظره تیر کړ

حمید وویل قومندان صاحب یواځی خیخاط راځی ته دومره ورخطا یی دا چی وزیر راتلی تا به څه کول

قومندان وخندل وویل که خیخاط ته پاتی راغلو نو وزیر ته به خامخا پاتی راځو

حمید وویل قومندان صاحب که ستاسو اجازه وی زه به د هغی قاتل نیولو لپاره لاړ شم چی په ځنګل کی یی څو ځل خلک وژلی قومندان وویل تا ته دلته ډیره اړتیا ده څو عسکر ولیږه هغه به یی ونیسی خو تاکید پری وکړه چی تری بچ نشی که هغه ونیسو خیخاطان به زمونږ کارونه ډیر وستایی حمید د خپل تګ لپاره ډیر ټینګار وکړ خو قومندان ونه منله حمید څو پیاوړو عسکرو ته د څه هدایاتو وروسته د هغه قاتل د نیولو امر وکړ عسکرو سلام وکړ او د مرکز څخه د هدف په لور وخوځیدل کابو نیم ساعت وروسته د سړک څخه دوړی پورته شوی او څو نظامی موټری راښکاره شوی یو عسکر قومندان ته خبر ورکړ قومندان حمید او عسکر تیارسی د مرکز په منځ کی ودریدل دروازه خلاصه شوه موټری مرکز ته داخل شوی د لومړی موټر څخه دری د تنی لوی کسان چی ږیری یی خریلی وی او مخونه یی سپین ښکاریدل راښکته شول د نورو موټرو هم عسکر ښکته شول خیخاطان تر یو ساعت پوری مرکز کی وګرځیدل وروسته د قومندان کوټی ته راغلل د قومندان زیاته ستاینه یی وکړه وویل مرکز ټول شیان په سم ځای پراته و دوی

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

خبری کولی او چای یی څښنه دروازه ټک ټک شوه قومندان د راتلو اجازه وکړه عسکر راننوت سلام یی وکړ وویل حمیده مجرم نیول شوی ستاسو هدایت ته په تمه یو
حمید وویل سمه ده زه درځم حمید اجازه وغوښته او د قومندان د خونی څخه ووت یو خیخاط وویل مجرم مو په کوم جرم نیولی
قومندان وویل دی مجرم په اړه د قومندانی څخه مونږ ته امر راغلی و د قومندان خبره بل خیخاط په واک کی واخیسته وویل دا خو هغه مجرم ندی چی په ځنګل کی به یی خلک داسی وژل لکه ځناورو چی وژلی وی
قومندان وویل دا همغه مجرم دی یو بل خیخاط چی د نورو خیخاطانو مشر و وویل دا مجرم حمید نیولی
قومندان وویل هو حمید نیولی خیخاط نورو خیخاطانو ته وکتل د ټولو په ځیرو یو ډول موسکا وه
قومندان وویل خیرت خو دی
مشر خیخاط وویل وروسته به په خپله پوهه شی قومندان نور د حمید د زړورتیا صفتونه شروع کړل هلته حمید محب ته چی د مجرم څخه به یی اظهارات اخیستل غوږ کی ورته څه هدایت وکړ محب د سمه ده په بڼه سر وخوځو محب مجرم په نیم ساعت کی دی ته تیار کړو چی هر څه ووایی وروسته یی قومندان پسی یو کس ورولیږو قومندان او خیخاطان راغلل قومندان د مجرم خواته ودرید خیخاطانو د لږ لری ځای ننداره کوله حمید بیا لږ وړاندی ولاړ و محب د مجرم څخه پوښتنی شروع کړی مجرم هم داسی لګیا و ته به وایی چی نشه یی کړی محب د هغه ټولو کسانو په اړه تری پوښتنی کولی چی په ځنګل کی وژل شوی و مجرم هم ټول تورونه منل مجرم خبری کولی او هغه کسانو نومونه یی یادول چی د وژلی و کله چی یی وویل چی د سیدګل په نامه یو کس چی د غونډی کلی اوسیدونکی او د صدیق ورور دی هم ما د هغی د ځمکی د لاسته راوړلو لپاره وژلی قومندان هک پک کړ قومندان غوښتل حمید ته

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

وګوری خو د ګټلو مخکی ږز شو قومندان سترګی پټي کړی په مخ یی د وینو لګیدل حس کړل خپلی دریشی ته یی وکتل په وینو سره وه خیخاطانو حیران حیران ګټل قومندان مجرم ته وکتل په مخ یی د تندی څخه روانو وینو لیکه جوړه کړی وه د بل ږز سره قومندان بیا سترګی پټی کړی وروسته یی مجرم ته وکتل د هغی سپینی جامی په سور کفن بدلی شوی دریو عسکرو د حمید په لاس کی تفانچه تری واخیسته هغه یی د هغی ځای څخه بوت قومندان او خیخاطانو حیران حیران یو بل ته ګټل یو عسکر مجرم وګتلو په سټړی ساه یی وویل مړ دی خیخاطانو لومړی مجرم ته وګتل مجرم په وینو سور په چوکی کی ناست و بیا یی قومندان ته په پوښتونکی نظر وګتل قومندان په سترګو کی د هغوی د پوهولو ژمنه وکړه او د خیخاطانو سره یو ځای خپلی خونی ته لاړ خیخاطانو ته یی د حمید د پلار کیسه وکړه وویل دا یی د پلار قاتل و قومندان محب راوغوښت ورته وویل ایا حمید پوهیده چی دا یی د پلار قاتل دی

محب وویل قومندان صاحب نور نه یم خبر خو ما ته یی وویل چی د دی مجرم څخه د ټولو هغه کسانو په اړه معلومات واخله چی د لومړی څخه یی وژلی دی هغه داسی ښکاریده لکه څه کار چی کوی

مشر خیخاط وویل سخت خپه شوم د وزارت څخه حمید ته د ښه کار کولو په سر د وزیر صاحب لخوا ډالی رالیږل شوی وه خو هغه داسی کار وکړ چی سزا یی د شلو کالو څخه به کمه نه وی د قومندان په مخ اوښکی راغلی وویل حمید ما ته د خپل ورور څخه کم نه ښکاری هغه ډیر اخلاقی انسان دی

خیخاط وویل زه هم پری خپه یم خو قانون د ټولو لپاره یو شان دی

حمید څخه اظهارات واخیستل شو او دوسیه یی ځارنوالی ته ولیږل شوه څو ورځی وروسته یی محکمه ترسره شوه د قومندان او صدیق د ډیرو هڅو سره سره محکمی حمید ته د لس کاله بند سزا واوروله د حمید مور د حمید په بندی کیدو زیات وژړل خو دی ته

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

خوشحاله وه چی د خاوند وینه یی بی ځایه تویه نشوه حمید څو کاله په زندان کی تیر کړل هر وخت به یی مور کشر ورور جمال خویندی د کاکا زامن یی کاکاګان یی او د تره ښځه یی لیدو ته راتلل د حمید سره د سلمان په نامه یو بل زندانی ملګری شوی و تل به دواړو د کیسو په کولو او د تیرو خاطراتو په راژوندی کولو وخت تیروو یوه ورځ حمید د سلمان څخه وپوښتل ته ولی بندی شوی
سلمان په غمجن اواز وویل د خپل پلار قتل په تور
حمید وویل ولی دی خپل پلار وواژه
سلمان وویل هغه ډیر ظالم انسان و دوه ښځی یی وی زما مور مشره وه یواځی زه وم نور وررونه می نه و پنځه خویندی می وی پلار می په دی خاطر بله ښځه کړی وه چی زما وررونه نه کیږی کشره ښځه یی پری ډیره ګرانه وه زما مور به یی وهله زمونږ سره به یی بد چلند کوو تل به یی وهلو زه چی کله رالوی شوم ما یی هم حق ورکړ بیا یی حمید ته وویل ته ولی بندی شوی
حمید په غمجن اواز وویل د خپل ګران پلار غچ می واخیست ځکه بندی شوم
سلمان وویل ته عسکرو څنګه ونیولی
حمید وویل زه په خپله عسکر وم د هغی د نیولو لپاره زه انتخاب شوی وم د څیړنو په وخت پوهه شوم چی دا زما د پلار قاتل هم دی د هغی د نیول کیدو په وخت کی د وزارت څخه خیخاطان راغلی و د دغی مجرم د نیول کیدو په بدل کی د وزیر صاحب لخوا ستاینلیک او ډالی ما ته رالیږل شوی و خو زه خبر هم نه وم خیخاطانو غوښتل د مجرم د اظهاراتو وروسته ما ته دغه انعام راکړی خو ما د خیخاطانو په مخکی هغه هغه وخت وواژه چی زما د پلار په وژلو یی افتخار کوو
سلمان وویل ستا د پلار قاتل څوک و؟

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

حمید وویل: ځنګلي ځناور .

## پای

نیته :۲۹\۰۱\۱٤۰۰ یکشنبه ماښام ۱۰ :۰٦ دقیقی

لیکوال ادریس ساحل صافی

لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

| | |
|---|---|
| ولد | محمد نظیر صافی |
| ولایت | کونړ |
| ولسوالی | وټه پور |
| کلی | ګنډیل |
| دنده | متعلم |
| ښوونځی | عمراخان |
| ټولګی | ۱۱ |

عکس

## لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور



لیکوال : ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناول ځنګلی ځناور

تیروتنی په لاندی ادرس راواستوئ

safi.idris1234@gmail.com

لیکوال : ادریس ساحل صافی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**